# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړي استازي، یان کوبیش لنډ ګزارش،۲۰۱۳ کال د دسمبر ۱۷

---

سهارمو پخیر ښاغلی رئیس او د امنیت شورا محترمو غړو،

کله چې درې میاشتې وړاندې، د سپتمبر په میاشت کې، ما دلته یو مثبت سفر په ډاګه کړ، ځکه چې افغانستان د ستر امنیتي هوډ، سیاسي او اقتصادي لیږد پړاو څخه د تیریدو په حال کې دی. نن زه کولی شم بیا تکرار کړم چې پرمختګ دوام لري او هڅې، په لویه کچه، په سم مسیر خوځښت مومي - که څه هم پرته له ننګونو او لنډمهاله خنډونو، او د افغانانو د سر او مال د درنو لګښتونو سره وي. زه غواړم د هغو شپږو ناټو سرتیرو لپاره خپله خواخوږي څرګنده کړم چې نن د افغانستان په سویل کې د الوتکې د نسکوریدو په پیښه کې مړه شول.

هو، بې ثباتي شتون لري. ناڅرګندتیا شتون لري. په هرصورت، په افغانستان او پراخه سیمه کې د ثبات د پیاوړتیا لپاره اړین بنسټیز عناصر د نړیوالو ځواکونو د وتلو د دوام سره مدغم شوي دي.

د نړیوالې ټولنې لخوا ملاتړ شوي، د افغانستان لخوا د یوې لسیزې هڅې دغه هیواد بدل کړی چې موږ یې نن وینو. د افغانستان خلک په څرګنده توګه پوهیږي چې د خپل دولت، امنیتي ادارو او اقتصاد د ساتلو او دوام لپاره به لږترلږه د لږد لسیزې په اوږدو کې نړیوال ملاتړ ته اړتیا ولري. په بدل کې غړې هیوادونه په ټوکیو او شیکاګو کې د اوږدمهاله مرستو غیر معمولي او دوامداره کچې ژمنې ترسره کړې دي. دا په ټوله سیمه او ټوله نړۍ کې د ستراتیژیکو همکاریو د تړونونو د زیاتیدونکې شمیر په مرسته نور هم ټینګار شوی دی.

د مشورتي لویې جرګې لخوا د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ د دوه اړخیز امنیتي تړون په اړوند وروستي پریکړه، د رواني ملګرتیا لپاره د دې مهم چوکاټ د نهایي کیدو او په پراخه کچه د پراخې نړیوالې ښکیلتیا د دوام لپاره پراخه تمې پیاوړې کړي دي.

په راتلونکې کې د باور رامنځته کولو لپاره وړاندوینه خورا مهمه ده. موږ باید په کلکه سره ګډ کار ته دوام ورکړو ترڅو یو خپلواک او دوامداره دولت ډاډمن کړو چې بیا به هیڅکله د نړیوال تروریزم او سازمان شوي جرمونو لپاره ځاله نه شي، او په ځانګړي توګه د مخدره توکو د سوداګرۍ په ګډون. دا د هرچا په ګټه ده.

ښاغلی رئیس،

سیاسي لیږد د راتلونکي کال د ولسمشرۍ ټاکنو سره د دې هڅو په زړي کې قرار لري چې د واک تاریخي ډیموکراتیک لیږد انځور وړاندي کوي.

د پر وخت او په بشپړ ډول د اساسي قانون سره سم د باور وړ ټاکنې ترسره کول د اهمیت وړ دی او په پراخه پیمانه ستایل کیږي. د اپریل د میاشتې په پنځمه نیټه د ټاکنو لپاره د توافق شوي ورځ لپاره تخنیکي چمتووالی او سیاسي تحرک په سم مسیر کې راوان دی چې د تیرو ټاکنو په پرتله ډیر پرمختللی هم دی.

د راپور ورکولو دغه دوره د خپلواک ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون او د رسنیو کمیسیون د رامنځته کیدو شاهد پاتې شوی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره یوځای، دا پدې مانا ده چې د ټاکنو د مدیریت درې ګونه اداري اوسمهال فعال دي چې د لومړي ځل لپاره، د یوې قانوني هوکړې چوکاټ لاندې رامنځته شوي دي.

د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د نوماندانو شمیر ۱۱تنه او د ولایتي شوراګانو لپاره ۲۷۱۳ تنه، چې ۳۰۸ تنه یې ښځې دي، په ډاګه ښکاره کوي چې په افغانستان کې د دې ټاکنو لپاره پراخه لېوالتیا شتون لري. د رای ورکوونکو د نوم لیکنې بهېر د روانې پروسې له لارې تر اوسمهاله له ۳.۲ میلیون وګړو څخه ډیر نوي د رای ورکوونکو کارتونه ویشل شوي دي، چې د دې شمېر یو پر دریمه برخه یې ښځې جوړي.

د ټاکنو د پروسې او ګډونوالو - په ګډون د رای ورکوونکو، نوماندانو، د ټاکنو کارمندانو، او کورنیو او نړیوالو څارونکو - د امنیت په برخه کې د کورنیو چارو وزارت مخکښ دی او د ښکیلو اړخونو ترمنځ ښه تعامل ترسترګو کیږي. امنیتي ننګونې ریښتینې دي او باید په فعاله او واقعي ډول سره حل شي ترڅو پراخ ګډون ته زمینه برابره کړي او د رایې ورکولو څخه د محرومیت او یا ځنډ د هر ډول پلمې څخه مخنیوی وشي. دا د سالمو او باوري تحلیل او عامه پوهاوي پر بنسټ پلان جوړولو ته اړتیا لري ترڅو ترسره شوي اقدامات شریک کړي او پدې توګه د رایې ورکوونکو باور زیات کړي. پدې کې د رایې ورکولو مرکزونو موقعیت او وضعیت په اړه شفافیت شامل دی، چې په دې اړه په راتلونکي وخت کې مهمې پریکړې بوشي.

په سیاسي لحاظ، زه د نوماندانو ترمنځ د "لوبو قواعدو" یا اصولو سره د هوکړې لپاره، د دوی د هڅو هرکلی کوم، د وروستي ګټونکي د منلو په ګډون. مخکې لدې چې مور بیا سره لیدنه وکړو، د کمپاین رسمي دوره پیل کیږي او زه هر یو نوماند هڅوم چې ځان او د خپل ملاترکوونکي د عادلانه، پاک، او د مسلو پر بنسټ سیالۍ ته ژمن کړي. دا ټولټاکنې، او د هغه شاوخوا سیاسي چاپیریال، باید د ملي یووالي سره مرسته وکړي او د قومي یا فرقه ایزو ډلبندۍ په ګډون تاوتریخوالی ته لمن ونه وهي او یا یې پراخ نه کړي. په پای کې، یوه مشروع پروسه د هرچا په ګټه ده او باید د دولت سرچینو او متوازن رسنیو پوښښ ته مساوي لاسرسی ولري.

د څارنې هڅې - نه یوازې د ټاکنو په ورځ کې، بلکې د هغه چاپیریال څارنه چې د رایې ورکولو او د پایلو د راټولولو دمخه رامنځته کیږي، کولای شي باور سره مرسته وکړي. زه له غړو هیوادونو او سیمه ایز څو اړخیز سازمانونو څخه تمه لرم چې د دې برخې په هڅو کې ګډون وکړي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان سیمه ایزې اړیکې او په یوه همکاره ګاونډ کې د خپل مناسب ځای جوړول به د افغانستان او د هغه د ګاونډیانو د راتلونکې ټیکاو او پایښت لپاره خورا غوره تضمین وي.

د راپور په موده کې د ولسمشر حامد کرزي سیمه ایزې اړیکې د دوشنبې، تهران، بیجینګ او نوي ډیلي سفرونه شامل دي چې د پاکستان صدراعظم نواز شریف یې په کابل کې هرکلی وکړ. ولسمشر په بشکیک کې د شانګهای د همکارۍ سازمان په سرمشریزه کې هم برخه واخیسته، چې پکې یې د قرغزستان او روسیې له ولسمشرانو سره، او په لندن کې د پاکستان او انګلستان سره په درې اړخیزو اړیکو کې هم وکتل. د لوړ پوړو دا ډول منظم اړیکې د دوه اړخیزه منل شوي اړیکو او همدارنګه د څو اړخیزو اړیکو تګلارو لپاره د زیات تحرک رامنځته کولو په موخه خورا مهم دي.

زه په ځانګړي ډول د افغانستان او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې د مثبت تحرک هرکلی کوم. د لوړ پوړو چارواکې وروستي سفرونه د متقابل ګټو په ټولو برخو کې د باور او همکارۍ د رامنځته کولو لپاره د متقابل لیوالتیا یوه مهمه هنداره ده. د دې پېژندګلوي په منځ کې یو نوی غږ راپورته کیږي چې د داخلي او سیمه ایزو ننګونو په وړاندې د اړیکو پیاوړتیا او متقابل حل لارې لپاره خورا اړین دي.

زه په دې وروستیو کې په اسلام آباد کې د افغانستان د سولې د عالي شورا د لوړې کچې د استازو د هرکلی له امله هڅول شوی یم. اوس په ټوله سیمه کې دا خبره په پراخه پیمانه خپره ده چې سیاسي حل لارې به د دوامداره سولې، امنیت او سوکالۍ لپاره کنجي وي.

د سولې د ودې لپاره د مناسب چاپیریال رامنځته کول لپاره د کار دوام، پر ملکي وګړو باندې د شخړو د اغیزو د کمولو په ګډون، د ټاکنو د ملکي ماهیت په اړه د پوهاوي لوړول، او د افغان چارواکو او د حکومت ضد عناصرو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو د ملاتړ لپاره لازم چاپیریال او جوړښتونو جوړول لاهم اړین دي. ملګري ملتونه چمتو دي چې په دې اړوند د خپل ماموریت د دندو سره سم مرسته چمتو کړي.

زه په پراخه کچه، د ګډو اقتصادي ګټو په اړه، د بین البین اړیکو او زیربناوو په ګډون، د سیمه ایزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د فرصت په توګه، پداسې حال کې چې د خلکو په ژوند کې د پام وړ پرمختګونه راوړي، خورا زیات تمرکز وینم.

د استانبول پروسه د څو اړخیزو اړیکو او د افغانستان په اړه د سیمه ایزو کړنو د لوړولو لپاره په دوامداره توګه وړتیا ښکاره کوي. د هندوستان هېواد د جنوري د میاشتې په لومړیو کې د لوړ پوړو چارواکو راتلونکې غونډه کوربه توب کوي، چې د کال په وروستیو کې به په چین کې د وزیرانو د ناستې سره تعقیب شي چې پر پریکړو باندې سیمه ایزه هوکړه څرګندوي. د سیاسي ژمنتیا زیاتوالی اوس اړتیا لري چې د باور جوړونې د یو موټي اقداماتو څخه راپورته شوي مشخص لاسته راوړنو سره سمون ولري.

زه په خپله د سیمه ایزو ښکیلتیا او لاسرسي لپاره ډیر وخت او پاملرنه مختص کوم، په ځانګړې توګه د راپور ورکولو په دې دوره کې چې د مرکزي آسیا جمهوریتونو ته سفر کوم، او زما سیاسي مرستیال تهران او بیجینګ ته به سفر وکړي. په ژنو کې د ایران د اټومي پروګرام په اړه د خبرو اترو وروستي پرمختګ په کابل کې له نږدې تعقیب کیږي ځکه چې په بالقوه توګه په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات لپاره د ډیر مناسب چاپیریال راوستلو سره مرسته کوي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان د ګاونډیو او سیمه ایزو شریکانو د مشرانو سره په غونډو او ناستو کې، ما تل د اوسنیو ناځرګندتیاو په اړه اندیښنې واوریدې. پدې کې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د بې ثباتۍ احتمال شامل دی که چیرې یوه تشه رامنځته شي، کولای شي د القاعدې سره تړلې نړیوالې ترهګرۍ او جرمونو خپریدل وهڅوي چې په ټوله سیمه کې ناوړه اغیزې ولري.

په افغانستان کې د کوکنارو د کښت او تولید یو بل ریکارډ جوړونکی کال - چې په پایله کې کابو ۵۵۰۰ ټنه اپین تولید لامل شو د سترې اندیښنې وړ دی. دا ګواښ نه یوازې د افغانستان روغتیا، امنیت او اقتصادي هوساینه ګواښوي، بلکې د سیمې او پراخه نړیوالې ټولنې لپاره هم ګواښ ګڼل کیږي. پخوا په افغانستان کې د نسبتاً باثباته لویدیځو او شمالي ولایتونو کې د شخړو زیاتوالی په ګډون د یاغیانو لخوا د بدخشان د ولسوالۍ د مرکز لنډمهاله نیول، یو څه اندیښنه رامنځته کړی چې د شخړې پیچلي او مخ په ودې ماهیت روښانه کوي.

زه د افغانستان د سیمه ییزو شریکانو د ارام او اندازه شوي غبرګونونو څخه، چې د داسې ننګونو په وړاندې ښودلی دی حیران شوی یم. د ګوتو د اشارې علاوه یو د ستاینې وړ خوځښت ته اړتیا ده چې په دوه اړخیز او څو اړخیز ډول سره سېمه ایز حل لاري رامنځته کړي. د دې یوه غوره بیلګه د وزیرانو او د مخدره توکو سره د مبارزې ادارو وروستۍ غونډه ده چې د تاجکستان لخوا کوربه توب شوې وه، چیرې چې د ګډو مسؤلیتونو او ګډو غبرګونونو پر بنسټ د سیمه ایزې همکارۍ پراهمیت ټینګار شوی و

ښاغلی رئیس،

د امنیت لیږد د پلان سره سم پرمخ روان دی. په امنیتي ډګر کې د سقوط هغه ناورین و نه شو کوم چې ځینو قیامت غوښتونکو وړاندوینه کړې وه. افغان پوځ او افغان پولیس د ننګونو سره مخ دي. البته خندونه هم شتون لري او د مرګ ژوبلې کچه د اندیښنې وړ ده. زه په دې وروستیو کې د کورنیو چارو وزیر څخه په خوشحالتیا وارید چې د پولیسو پرسونل ترمنځ د مړینې لوړه کچه اوسمهال پر کمیدو دی.

دا ملکي وګړي دي چې د جګړې پېټۍ زغمي. د نومبر د میاشتې تر پایه پورې، یوناما ۲،۷۳۰ مړینې او ۵،۱۶۹ ټپیان ثبت کړي، چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ماموریت ډېټا ښیي چې وسله وال مخالف ډلې د دې ډول تلفاتو د ډیرې برخې مسؤلیت په غاړه لري. زه د افغان او نړیوالو ځواکونو لخوا د ملکي وګړو په اړه د جګړې د اغیزو د کمولو لپاره د اخیستل شویو ګامونو هرکلی کوم. په هرصورت، زه د ناټو غړو هیوادونو څخه یوه ځانګړې غوښتنه بیا تکراروم

چې د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره مکلفیتونه پوره کړي چې خالي شوي ځایونه په بشپړ ډول سره د جګړې د احتمالي چاودیدونکو توکو څخه پاک شي او په دې توګه ملکي وګړو ته د ناڅاپي زیان رسیدنې امکان کم کړي.

لکه څنګه چې افغان ځواکونه د امنیت مشري په غاړه اخلي، دا د ملکي وګړو د ساتنې په برخه کې د مسؤلیتونو زیاتوالي سره یوځای راځي. د بشري حقونو د مکلفیتونو د پوهاوي د رامنځته کولو لپاره کار کول او د افغان امنیتي ادارو شفافیت او حساب ورکونې هڅول باید د نړیوالې روزنې او مرستې یو مهم عنصر وي چې په راتلونکي کې به پرمخ ځي.

په حقیقت کې، دا په زیاتیدونکې توګه پیژندل کیږي چې دا یوازې د پرسونل شمیر نه دی چې مهم دی بلکه د دوی مسلکیتوب او پایښت دی چې په نهایت کې د اداري اغیزمنتوب لپاره مرکزي زړي جوړوي. زه د کورنیو چارو وزیر لخوا د پولیسو د ملکي ماهیت په اړه د نوي ټینګار او د قانون پلي کولو دندو باندې د زیات تمرکز، د ښځینه پرسونل د زیاتوالي - او ملاتړ – ژمنې په ګډون، هرکلی کوم.

زه په مکرر ډول سره د افغانانو څخه اورم چې معافیت او د حساب ورکونې نشتوالی د تاوتریخوالي ستر محرکات دي. له همدې امله په امنیتي خدماتو باندې د خلکو د باور زیاتولو تمرکز یوه هوساینه او آرامې نه دی چې وروسته ورته پاملرنه وشي، بلکه اوسمهال یو لومړیتوب وګڼل شي. د دې په پیژندلو سره، او د خپل ماموریت سره سم، په افغانستان کې ملګري ملتونه د قانون حاکمیت او قضایي سکتورونو کې د ملاتړ همغږۍ ته وده ورکولو باندې خپل تمرکز به لاپسې زیات کړي.

فساد لاهم یوه ستره ستونزه ده. افغانستان اوس مهال د شفافیت نړیوال سازمان د اداري فساد په شاخص کې د ۱۷۷ هیوادونو په ډله کې ۱۷۵ ځای خپل کړی دی. د دسمبر د میاشتې په ۹ نېټه، د فساد پر وړاندې د مبارزې نړیواله ورځ - د ملګرو ملتونو په ملاتړ د افغانستان د روڼتیا نوښت پیل شو. دغه نوښت هڅه کوي چې د حکومت ژمنې او ظرفیت ملاتړ وکړي ترڅو مالي حساب ورکونه په داسې وخت کې لوړه کړي کله چې ډیرې نړیوالې مرستې 'په بودیجه کې دننه چمتو کیږي.

ښاغلی رئیس،

همدارنګه، احتمالاً بشري اړتیاوې به هم زیاتې شي. افغانستان په دوامداره توګه یو بې وزلی هیواد پاتې دی چې د طبیعي پیښو او شخړو په وړاندې زیان منېدونکی دی. د ژمي موسم یو بل اضافي فشار دی. پداسې حال کې چې سرکال تودوخه د موسمي اوسط څخه به پورته وي او د لړ واورې وړاندوینه کیږي، د ولایتي پیښو مدیریت کمیټو د بیړني حالت پلانونه چمتو کړي دي.

په هغو ټولنو کې چې په ځانګړي ډول د شخړو پورې اړوند زیانمنونکي پیژندل شوي دي، د وردګو، نورستان، غور، غزني، پکتیا او فاریاب ولایتونه دې کوم چې ۳۵۰۰۰ داخلي بې ځایه شوي کسان لري. زه د وزیرانو شورا د وروستي تصویب هرکلی کوم چې د داخلي بې ځایه شویو کسانو لپاره ملي ستراتیژۍ تصویب کړي او د هغه پیاده کول، او تر ټولو مهم د جامع او دوامداره حل لارو ترلاسه کولو په هدف د هغې پلي کولو ته سترګې په لار یم.

حتی پداسې حال کې چې دا ډول ارتیاوې زیاتیږي، نو د هغو کسانو لپاره خطرونه هم زیاتیږي چې د مرستې په لټه کې دي. تر دې دمه په ۲۰۱۳ کال کې، د بشري چارو د همغږۍ دفتر د بشري پرسونل، تاسیساتو او شتمنیو په وړاندې ۲۳۷ پیښې ثبت کړې دي چې پکې ۳۶ مړینې، ۲۴ توقیفونه، ۴۶ ټپیان او ۷۲ تښتونې شامل دي. د امنیت شورا لا دمخه په دې موده کې د دوو ځانګړو غمجنو پیښو په کلکه غندنه وکړه ده، چې د نومبر د میاشتې په ۲۶ نېټه په ارزګان کې د ریموټ کنټرول شوي چاودیدونکي وسیلې له امله دری تنه افغان پراختیایي کارکوونکي ووژل شول او بله ورځ، په فاریاب ولایت شپږ تنه افغان کارکوونکي چې د فرانسوي سازمان اکټیدی سره کار کولو په یوه کمین کې ووژل شول. یوه کمین کې ووژل شول. زه لدې امله په افغانستان کې د بشري ټولنې په استازیتوب د دوي څخه مننه کوم.

زه هغو زړورو نارینه او ښځو ته درناوی کوم چې د ملکي خلکو د کړاونو د کمولو او مخنیوي لپاره کار کوي او له ټولو فعالو خواو څخه غوښتنه کوم چې د بشري ټولنې بې طرفۍ، خنثې او خپلواکۍ درناوی وکړي، او نړیوال قوانین او جګړیز نورمونه رعایت کړي.

ښاغلی رئیس،

اقتصادي پایښت او مساوي ټولنیز پرمختګ، حاکمیت او ثبات ته ملاتړ چمتو کوي. په ورته وخت کې د عوایدو راټولولو کې کمښت لکه څنګه چې افغانستان د خپلې ملي بودیجې ستري برخې پوره کولو خوا ته حرکت کوي، د امنیتي لګښتونو په ګډون، د اندیښنې وړ دی. د عوایدو زیاتوالی، د یو قوي تنظیمي چوکاټ سره یوځای، د بسپنه ورکوونکو او پانګوالو د باور لپاره خورا مهم دی.

زه د حکومت د دې ډاډ هرکلی کوم چې د پیسو مینځلو ضد قوانین، د ترهګرۍ تمویل سره مبارزه، او د اضافي ارزښت مالیه ډیر ژر به تصویب شي. زه د بسپنه ورکوونکو او حکومت لخوا ترسره شوي کار ستاینه کوم ترڅو د تمویل جریان - د ملي لومړیتوبونو سره د مرستو سمون په ګډون، روښانه کړي - ترڅو متقابل ژمنې پوره کړي.

د راتلونکي سیاسي لیږد په اوږدو کې د دوام او پرمختګ ډاډمن کولو لپاره د پراختیا په اجنډا کې دوامداره خوځښت اړین دی. د ټوکیو د دوه اړخیز حساب ورکولو چوکاټ کې د پرمختګ ارزولو او د راتلونکي لپاره د اجنډا جوړولو په موخه، اوس مهال د راتلونکي کال د جنوري د میاشتې په 29 نیټه د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ د ځانګړې غونډې لپاره ترتیبات نهایی شوي دي.

په ځینو برخو کې، لکه ټاکنې، هڅونکي پایلې ترسترګو شوي دي مګر په نورو کې، لکه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون پلي کول کې لا ډیرو هڅو ته اړتیا ده. د یوناما وروستي راپور موندلې چې افغان چارواکي په تیر کال کې د دغه قانون له مخې د ښځو په وړاندې د زیات تاوتریخوالي راپورونه ثبت کړي، مګر دا چې محاکمې او محکومیتونه کچه ټیټه پاتې ده. د راپور ورکولو زیاته کچه یو مثبت پرمختګ دی، مګر باید د ریښتیني ارادې سره سم د ښځو په وړاندې د زیان رسونکو کړنو په اړه قانوني بندیزونه، د ترسره کوونکو د محاکمې په ګډون، پلي کړي.

د تیرې لسیزې د لاسته راوړنو د ساتنې او پیاوړتیا په ډګر کې یو بل مرکزي ژمنتیا د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د خپلواکۍ، اعتبار او پایښت ډاډمن کول دی. کمیسیون په دې وروستیو کې د نړیوال اعتبار بیاکتنه ترسره کړې او پدې اړوند د رسمي پریکړې انتظارکوي. زه له حکومت او کمیسیون څخه غوښتنه کوم چې د بیاکتنې سپارښتنې پلي کولو لپاره په ګډه سره کار وکړي.

ښاغلی رئیس،

د یوناما ونډه، او په پراخه کچه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ونډه او نقش په زیاته پیمانه ستایل کیږی.

د ملګرو ملتونو د داخلي همغږۍ او اغیزمنتیا لپاره اړتیا لیدل کیږي. مرستې باید په داسې لارو وړاندې شي چې د افغان ادارو ظرفیت پیاوړی او ځواکمن کړي ترڅو خپلو خلکو ته د تایید شویو ملي لومړیتوبونو سره سم خدمتونه چمتو او وړاندې کړي. پدې کې د غیرقانوني اقتصاد سره د مبارزې لپاره د جامع طریقو او د عدالت په پلي کولو کې د ښه همغږۍ او د قانون د حاکمیت د لوړولو لپاره د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې مخ په زیاتیدونکي توګه یو موټې هڅې شاملې دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو راتلونکی ونډه به ممکن هغه وخت په پراخه کچه په پام کې ونیول شي کله چې د سیاسي او امنیتي لیږد پروسې اغیزې په اړه ډیر وضاحت شتون ولري. د هغې د خپل تعریف له مخې، لیږد، د مدیریت شوي بدلون وخت په معنی دی. د یوناما د ماموریت بیا تنظیم او تغیر به د افغانانو د حاکمیت او د رهبرۍ د پیاوړتیا په رسمیت پیژندلو کې اړین مرسته وکړي.

که څه هم زه په هیڅ ډول د ماموریت راتلونکي په اړه د شورا د بحثونو د مخنیوي هڅه نه کوم، زه به په دې پړاو کې د یو موټې ماموریت لپاره د دوامداره اړتیا وړاندوینه وکړم، کوم چې د اصلي او زړې په ډګرونو باندې لکه، د افغانې مشرتوب د پروسو لپاره د ښه نیت دفترونو، د نړیوالو شریکانو ترمنځ د پراختیا همغږي رهبري کول، او د بشري حقونو څارنه او ملاتړ، چې د ښځو او ماشومانو پر حقونو او بشری مرستو باندي ځانګړي تمرکز ولري، ولاړ دي.

زه د شورا د غړو څخه چې په تیرو بحثونو کې د یوناما د سرچینو د ثبات د ملاتړ په موخه، د راتلونکې دوه کلونو لپاره، د روښانه څرګندونو له امله مننه کوم. بودیجه د ماموریت د دندو پر بنسټ باید تصویب شي ځکه چې ماموریت لا هم پراخ او پیچلې پاتې ده. په ځانګړې توګه، زه د ماموریت د ملي لومړنې طرحې ارزښت به روښانه کړم، چې یوه ځانګړې شبکه ده. زموږ ساحوي دفترونه د ټاکنو په فعالیت کې او په ځانګړي ډول د بشري حقونو د څارنې لپاره خورا اړین دي. په تمویل کې د کمښتونو احتمال به شتون ولري، او له بده مرغه، اضافي تنقیضاتو ته به هم اړتیا احساس شي.

ښاغلی رئیس،

ملګري ملتونه په افغانستان کې د یو باثباته، ټول شموله او دوامداره دولت هدف سره د افغان ادارو او افغان لومړیتوبونو ملاتړ کې اوږدمهاله ملګرتیا ته ژمن دی. زه یو ځل بیا تاییدوم چې نن ورځ د راپورته شویو ټولو ننګونو سره سره، د دې اهدافو په لور پرمختګ دوام لري.

د افغانستان د لیږد بنسټیز عناصر یو بل سره یو موټي دي، او په عمومي ډولسره هڅې په سم مسیر کې روان دي. پدې نازک وخت کې چې کلیدي عنصر د وړاندوینې پیاوړتیاکول دي. موږ باید صبر وکړو او په خپل وقف کې مذبذب نه شو، ډاډ ترلاسه کړو چې متقابلې هڅې په کلکه د ستراتیژیکو ګټو او د افغانانو او نړیوالې ټولنې دواړو لخوا پر ګډ اهدافو باندې متمرکز پاتې شي.

ستاسو د پاملرنې څخه مننه.

*****